استقلال خپلواکی

www.esteqlaal.net

روانشاد پوهاند عبدالحی حبیبی دوشنبه ۳۰ اکتوبر ۲۰۲۳

# د احمدشاه بابا دیوان

## یوه لسمه برخه




**د انسان اصل**

انسان فقط له مادي او د مادي له مظاهرو څخه مرکب نه دي، یو روحانی مقام هم لري، چه احمد شاه بابا ئي داسی ستايي:

دا ځما د صورت خټه

که څلور عنصره واخلي

په څلور عنصره پټه

پخپل خير ده دا کښ متّه

کله کله متصوفين دغه روحانی مقام وطن بولی او په یاد ئي ژاړي، احمد شاه بابا د دغه معنوی مقام ياد داسي کوي:

اروا طوطی دی وطن به مومي

بيا که دی مات د نفس قفس کړم

نه پوهيږم زړه ځما د کوم وطن وو

د يار ميني بيګانه له خپله کور کړم

چه د روح په روڼا ورک سوم

ځکه ما ليدلی يار و

احمد اوس که يک تنها شوې

ستا وطن د يار کنار و

**احسن تقويم**

دا هغه مسئله ده چه په (ان الله خلق آدم علی صورته) کي څرګنده شوې ده، احمد شاه بابا وايی:

پخپل خم دي "احمد" رنګ کړ

ځکه سو هسي مشهوره

يا:

څه عجب دي د خپل حسن په خم رنګ کړ

په عالم دي ښکاره کړی دا خميان ستا

**کاته او نظر**

صوفيه دنيا او ماده د قدرت مظاهر ګڼي، نو هر کله له مظهره د مظهر قدرت ويني، دا تدقيق او نظر د عرفان اساس دي:

چشمی داری و عالم در نظر است

ديگر چه معلم و کتابت بايد

خوشحال خان ختک ويلي دي:

که دي سترګي د عرفان شته مبارک شه

د ګلزار په ننداره چه استقلال کړې

احمد شاه بابا هم دغه تدقيق او نظر لري لکه چه وايي:

زه چه تل نظر دا هسي لور پر لور کړم

په هر لوري د خپل زړه صيقل بيا نور کړم

salamwatanam@gmail.com

**مثبت تصوف**

لکه دمخه چه مو وویل، احمد شاه بابا د تصوف مثبته خوا درلوده، یعني د ده تصوف "فلسفی تصوف" نه وه، چه د دنیا ترک او رهبانیت پکښي اخښلی دي، بلکه د ده تصوف شرعی او اسلامی وه، چه د جهاد روح، او د تقوا او خدمت خلق خوا ئې غالبه وه، لکه چه پخپله د فنا او بقا په خواو کي د اعتدال لار نیسي، او بقا د فنا کمال بولي:

دا د سر کاسه پرې مکړه د فنا کمال بقا ده

**ایمان او یقین**

په ماوراء الطبیعه ابحاثو کي عقلیون او فلاسفه تل پر عقل تکیه کوي، مگرعقل هم حقائق کماهی نسبي پیژندلاي، فلاسفه که څه هم په دغه لار کي ډیرزیارکاږي، مگر دغه زیار تر ځایه نرسیږي، او په پای کي وایي:

"معلوم شد که هیچ معلومم نشد" (فخر رازی). سقراط د یونان مشهور فیلسوف په دغه فخر کاوه "چه پخپله ناپوهي پوهیدلی وو". سپنسر د انګلستان نامتو عالم به ویل "چه په هیڅ نه پوهیږو" احمد شاه بابا یوه ورځ چه د پسرلی ګلونه غوړیدلي، او جهان ئې ښکلی کړي وو په دقیق نظر دغه ننداره کتله مگر عقل ئې هیڅ په فلسفه د دغه ښکلی جهان پوه نشو، له ځانه سره ئې وویل:

"احمد" شپه و ورځ ثنا کړه عقل څه رسي په کار؟

د پسرلی په پای کي ګلان رژیږي، پر ګلستان د فلاکت او ادبار خاوري اوري، احمد شاه بابا دغه د حیرت مقام داسي ښیئي:

په قدرت دی ګل کړ جوړ

چه چمن په ښایسته و

بیا په لږ عمر کي زوړ

اوس ئې باد وړي لکه پروړ

تر دغه وروسته په حیرت کي ډوبیږي نو وایي:

"احمد شاه" فکرونه پریږده بخره مومه له حیرته

په دې ډول احمد شاه بابا یوازی عقل د عرفان او پیژندګلوی په لار کي کافی نه بولي، ځکه چه د عقل د سیر پاي حیرت دي، نو دئ پخپل کلام کي هرکله د ایمان او یقین تلقین کوي، او دغه لار تر مجرد عقلیت غوره کوي، لکه چه وایي:

په یقین به خپل یار مومې

معرفت څراغ بل کړي

"احمد شاه" که یار غواړې

نفس نومید کړې لکه شنډه

یقین وباسه له ځنډه

لیري کړه د ګمان پلنډه

بل ځای وایی:

د یقین په لاره درومې

د ګمان صورت که واخلې

شک فاني یقین باقي کړه

دغه خپل یار به ووینې

په ګمان ولې دریږې

ته دریاب په موج بهیږې

په باقي به هوسیږې

د یقین پر لوړ که خیژې

یا:

د "احمد" د یار تر منځ د ګمان غرونه

که یار غواړې د یقین پر لاري پښې ږده

په دغه خوا کي د اوسنی زماني مشهور فیلسوف علامه اقبال هم زموږ د احمد شاه بابا ټینګ ملګری دي لکه چه وایی:

حیات جاودان اندر یقین است

ره تخمین و ظن گیری، بمیری

بل ځای وایی:

خرد بیگانۀ ذوق یقین است

قمار علم حکمت بد نشین است

دو صد بو حامد و رازی نیرزد

به نادانی که چشمش راه بین است

مقام شوق بی صدق و یقین نیست
یقین بی صحبت روح الامین نیست
گر از صدق و یقین داری نصیبی
قدم بیباک نه، کس در کمین نیست ۳۸

---

۳۸د علامه اقبال ارمغان حجاز د لاهور طبع.

**د جهان تطورات**

نوربیا...

salamwatanam@gmail.com